مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۶/۰۷

# او خپل شنه کلي پسې چيغې وهم



وچه بېديا کې وچه ونه يمه

د مېوې تمه رانه څنگه کوې

د سر گومبزه مې له چيغو ډکه

ته رانه بيا مستي سندرې غواړې

يوازې درد او سوچ را پاتي دی بس

زه پرې د پاسه لاس تر زني ناست يم

د شنو فصلونو آغه مسته کرونده د کلي

زما په مخ کې وسوه سکور شوله

ايرې، ايرې شوه او بادونو يوړه

دغه دی ځانته يم بل څوک نه شته دی

او خپل شنه کلي پسې چيغې وهم

۲۰۱۴/۰۷/۰۴
هيدرسلبف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ